رئیس آب‌رسانی ولایت کندهار ضمن خوش آمدید به سرپرست وزارت آب و انرژی پیرامون پروژه‌های این ریاست و مشکلات‌شان به سرپرست وزارت آب و انرژی معلومات همه جانبه ارائه نمود.

در این دیدار، محترم ملا عبداللطیف "منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی پس از استماع معلومات رئیس آب‌رسانی ولایت کندهار پیرامون تسریع روند امور تأکید ورزید و به منظور رفع مشکلات موجود هدایات لازم را دادند.

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د هېواد د پوهنې پخوانې وزیر سره و کتل



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر، ښاغلي ملا عبداللطیف" منصور" د ملي او جهادي شخصیت او دهیواد د پوهنې پخواني وزیر ښاغلي ډاکتر فاروق "اعظم "سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د هیواد اوسني وضعیت په اړه بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

په لمړیو کې د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د هېواد د پوهنې پخواني وزیر ته ښه راغلاست وویل او ترځنګ یې د اسلامي امارت ځواکونو پواسطه د هیواد بشپړې خپلواکۍ مبارکي ورکړه.

په دې لیدنه کې د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر، ښاغلي ملا عبداللطیف "منصور" زیاته کړه "افغانستان د ټولو افغانانو هیواد دی او د ټولو مسلکي او تجربه لرونکو کدرونو څخه غوښتنه کوو چې د هیواد په آبادۍ کې له مونږ سره همکاري وکړي ترڅو خپلو هیوادوالو ته د هوسا او ارامه ژوند زمینه برابره کړو.

په همدې حال کې، د هیواد د پوهنې پخواني وزیر ښاغلي ډاکتر فاروق" اعظم "د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ته له هیواده د امریکایي او ناټو یرغلګرو ځواکونو د وتلو مبارکي وویله او همدا شان اسلام یې د ټولو مسلمانانو د وحدت او یوالي لاره یاده کړه او د هر ډول همکاریو وعده یې وکړه.

---

# سرپرست وزارت آب و انرژی در دیدار با سرپرست وزارت زراعت و آبیاری بر آغاز مجدد پروژه‌های بندهای آبی تأکید کرد



محترم ملا عبداللطیف"منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی با محترم مولوی عبدالرحمن" راشد"، سرپرست وزارت زراعت و آبیاری در دفتر کاری‌شان دیدار نموده وپیرامون آغاز مجدد پروژه‌های بندهای آبی گفتوگو نمودند.

در این دیدار، سرپرست وزارت آب و انرژی با سرپرست وزارت زراعت و آبیاری در مورد آغاز مجدد کارهای بندهای آبی کوکچه، پشتون کوت و المار تأکید نمود.

# د پوله تیریدونکو(Transboundary water) اوبو په اړه د نړیوالو تړونونو محتویات



استاد برکت الله "آریوبی"

په نړۍ کې شاه وخوا ۲۷٦ پوله تیریدونکې سیندیزې حوزې شتون لري چې ډیره کمه برخه یې حقوقي چوکاټ تنظیموي او د ځینو ارزونو له مخې دوه پر درې برخه یې حاکم حقوقي چوکاټ نه لري.[1] افغانستان خپلې ټولې اوبه په ۵ سیندیزو حوزو وېشلې چې څلور هغه یې پوله تیریدونکې دي او دا هېواد یوازې د هلمند سیندیزې حوزې پر سر له ایران سره د هلمند اوبو 1351 کال تړون لري. د هلمند اوبو تړون د افغانستان او ایران ترمنځ د ۱۰۰ کاله مذاکراتو او دیپلماسۍ محصول دی. د اوبو چارو کارپوهان په دې عقیده دي چې دا تړون یو بریالی هوکړه ده او د وخت له شرایطو او مقتضیاتو سره سمون لري.

پوښتنه داده چې د پوله تیریدونکو اوبو تړونونو محتویات باید څه وي او کوم موارد په دې تړونونو کې درج وي؟ تر څو وکولای شي د اړوند ګډو سیندیزو حوزو اړخونه(لوري)، د اوبو منابعو مدیریت په برخه کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي. البته په دې اړه واحده رویه شتون نه لري، هره سیندیزه حوزه خپلې انحصارې ځانګړنې لري چې همدې ته په پام هېوادونه تړونونه رامنځته کوي؛ خو دلته هغه محتویات څېړل کیږي چې کارپوهان یې د اوبو په اړه نړیوالو تړونونو کې ځای پرځای کول توصیه کوي تر څو اړوند سیندیزه حوزه په سم ډول مدیریت شي او اوبه د اړوند هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا په وسیله بدلې شي.

د باثباته اوبیزو تړونونو په پار اړینه ده چې لاندې موارد د ګډو نړیوالو سیندیزو حوزو مدیریتي تړونونو کې ذکر شي:

**۱. مقدمه(سریزه):** د اوبو تړونونه لکه د بل هر تړون په شان مقدمې یا سریزې ته اړتیا لري چې د اوبو په اړه تړون په دې برخه کې معمولا د تړون درج شویو محتویاتو لنډه یادونه، د تړون رامنځته کیدو ضرورت او انګېزه، د تړون رامنځته کولو موخې یادې شي. همداراز باید په دې برخه کې د تر لاس لاندې تړون او نورو نړیوالو او سیمه ایزو حقوقي اسنادو اړیکې، وشاربل شي.

سره له دې چې مقدمه د متن حقوقي برخه نه ده، لیکن د متن او مفاداتو په تفسیر کې د پام وړ رول لري او د مهمو موضوعاتو لپاره عمومي لارښودیز چوکاټ رامنځته کوي.[2]

د هلمند اوبو تړون پّه دې مقدمې پیل شوی دی:

د افغانستان او ایران دولتینو د هلمند رود په اړه د ټولو اختلافاتو اسبابو دایمي رفع کولو په منظور، د دواړو لوریو ترمنځ نیکو او د ورورګلوۍ ښه ګاندیتوب اصل ته په کتو تصمیم ونیو چې دې موخې لپاره معاهده منعقدکړي او خپل باصلاحیته استازي یې معرفي کړل: له افغانستان څخه محمد موسی شفیق د افغانستان صدراعظم او له ایران څخه امیر عباس هویدا د هغه هېواد لومړی وزیر، دواړو استازیو خپلې اعتبارنامې یو بل ته ورکړې او هغه یې صحیح او معتبرې وګڼلې او په لاندې مواردو یې توافق وکړ.[3]

**۲. عمومي احکام (General provisions)** د اوبو چارو حقوقي کارپوهان سپارښتنه کوي چې د مقدمې او سریزې وروسته باید عمومي احکام ذکر شي. دا چاره یوازې د اوبو تړون نه، بلکې په هر بل تړون او یا تقنیني داخلي اسناد و کې هم شتون لري. په دې برخه کې هغه مفاهیم او اصطلاحات چې په تړون کې کارول شویدي، تعریف او توضیح کیږي. هغه اصطلاحات او مفاهیم چې ممکن ناسم تفسیر یې وشي، باید په واضح او شفافه توګه تعریف شي. په دې اړه د هېوادونو ترمنځ په عملي رویه کې توپیر تر سترګو کیږي، ځینې هېوادونه په دا ډول تړونونو کې د مفاهیمو یو لیست لري او ځینې نور ډیر کم.[4]همداراز په دې برخه کې باید د سند اهداف په واضحه او مشخصه توګه بیان شي. اهداف باید په داسې توګه بیان شي چې د همکاریو پراختیا سره مرسته وکړي او د دې ترڅنګ د تړون تطبیق او اجرا کې مؤثر اوسي. سربیره پر دې

۳- د هلمند اوبو تړون، افغانستان او ایران ترمنځ، ۱۳۵۱، مقدمه

Workshop: Transboundary water governance in Arab world, by Emilie broek. https://www.youtube.com/watch?v=k_ppazsfZPY

[2] M bengue, M.M. the notion of preamble in wolfram, R. (ed). The max plank, Encyclopaedia of public international law(Online Edition) Oxford university press, 2008

[4]UNECE, Guide to implementation the water convention, 2013,pp.105-106.

[5] Water charter for the volta river basin,2019, art 2.

اړينه ده چې اهداف د اندازه ګيرۍ وړ وي. ورسره هم مهاله په دې برخه کې د تړون تطبيق ساحه مشخصه کيږي چې د دې سند تطبيق ساحه کومه سينديزه حوزه، فرعي حوزه او يا .... دی. د مثال په توګه په ۲۰۱۹ کې د ولټا سينديزې حوزې په اړه منشور په خپله دويمه ماده کې د تړون تطبيق ساحه په داسې توګه مشخصه کړې ده:

- دا تړون د ولټا سينديزې حوزې په ټولو سطحې او ځمکې لاندې اوبو او اړوند ايکوسيستم حاکم دی.
- همداراز دا منشور په ټولو عمومي او خصوصي همداراز تر کار لاندې او پلان لاندې اقداماتو او فعاليتونو ته داسې نور.

د نړېوالو حقوقو له مخې بايد د دې تړون او پخوانيو نورو اسنادو او تړونونو کې درج شويو حقوقو او تعهداتو ترمنځ اړيکه تثبيت شي او واضح شي چې آيا دا تړون د دوه اړخيزوالي په صورت کې ګڼ اړخيز کيدای شي او بيلابيل لوري کولای شي د دې تړون غړيتوب واخلي که څنګه.

شامليږي چې ممکن سينديزې حوزې ته جدي ضرر واړوي. ضمنا دا بايد ذکر شي چې څوک او کوم هېواد کولای شي په کومو شرايطو د دې معاهدې طرف واقع شي لکه په يوه ګډه سينديزه حوزه کې اړوند شريک هېوادونه او يا

**۳. د تړون ذاتي محتويات ( substantive content of the agreement):** په دې برخه کې معمولا د اوبو معاهده کې هغه ذاتي مواد يا محتويات ذکر کيږي چې توافق نامه يې په اړه رامنځته کيږي. مهم موارد يې په لاندې توګه دي:

عمومي حقوق او تعهدات چې په دې برخه کې د معقولانه او منصفانه ګټې اخيستنې اصل دی، همداراز د هغو فکتورنو او عناصرو توضيح کول خورا اړين دي چې د معقولانه او منصفانه ګټې اخيستنې اصل اجزا تشکيلوي. د دې ترڅنګ اړينه ده په دغه برخه کې د جدي ضرر نه رسونې اصل ته پام وشي او د هغو اقداماتو اختيارولو يادونه وشي چې له مخې يې د جدي ضرر رسيدو مخنيوی کوي. د ايکوسيستم ساتنه او په اړه يې اقدامات د دې څپرکې بل مهم مورد دی چې بايد په تړون کې ذکر شي. د همکارۍ کولو اصل چې د نړېوالو عرفي حقوقو اصل هم بلل کيږي خورا اړين دی او بايد په دې برخه کې ورته لازمه پاملرنه وشي.

د معقولانه او منصفانه ګټې اخيستنې او جدي ضرر نه رسولو اصول خورا پيچلې بحث دی او په دې ليکنه کې ورباندې په جزياتو بحث کيدای نه شي؛ په راتلونکې کې به يې په اړه تفصيلي جزيات شريک شي.

د عمومي تعهداتو او حقونو برسيره اړتيا ده چې ځينې نور حقوق او تعهدات هم په دې برخه کې بيان شي لکه د کافي احتياط اصل( Due diligence) چې له مخې يې هېوادونه اړ دي په خپلو کړنو او اقداماتو کې دې اصل ته توجه وکړي تر څو د جدي ضرر رسولو مخنيوی وشي.

همدراز د دوامداره پراختيا( sustainable development) اصل يادونې ترڅنګ اړينه ده چې د ککړتيا مخنيوي لارې چارې په دې برخه کې ذکر شي او د ککړونکې هېواد مسؤليت يادونه وشي. د دې ترڅنګ صحي او پاکو اوبو ته لاسرسی د يو اساسي او بشري حق په توګه ذکر يې بې ګټې نه دی.

په حقيقت کې د اوبو مديريت او حفاظتي مسايل د دې برخې غوښنه برخه ده چې پکې د اوبو تخصيص او د اوبو جريان تنظيم شامليږي لکه د اوبو کميت، کيفيت او د اوبو ورکړې او وېش وخت.

د اوبو اړوند هايدرولوژيکي تسهيلاتو او زيربناوو خورا اړينې دي او د هغو ګډو زيربناوو ظرفيت بايد روښانه شي چې په يوه ګډه سينديزه حوزه جوړيږي. د زيربناوو محافظتي تدابيرو روښانه کول هم اړينه چاره ده او بايد ورڅخه يادونه شي.

سربيره پر دې د هغو اقداماتو توضيح چې ترسره کول به يې احتمالا منفي اغيزې او اثرات له ځان سره ولري.

د ملګرو ملتونو ګډو سينديزو حوزو اړوند ګټې اخيستنې کنوانسيون په خپله ۲۱ ماده کې دې موضوع ته اشاره کوي او وايي چې هېوادونه بايد د ککړتيا مخنيوي په پار لازم تدابير ونيسي.

د ککړتيا مخنيوی او يا لږ تر لږه کمښت يې مهم اړخ دی چې بايد ورته پام وشي. د هغو اقداماتو او مضرو فعاليتونو څخه د مخنيوي په پار اقداماتو يادونه خورا اړينه ده چې له مخې يې سينديزه ککړتيا رامنځته کيږي. همداراز د اضطراري حالاتو يادونه لکه د سيلابونو او وچکالۍ په اړه د تدابيرو درج کول اغيزمن ګام دی او بايده دي، نومورې برخې ته مهمه پاملرنه وشي.[6]

د دې سربيره د سينديزې حوزې ګټې اخيستنې مشترک او همغږې پلان رامنځته کول ضروري دي تر څو د اوبو تنظيم چارې د اړوند هېوادونو په همغږۍ او همکارۍ ترسره شي. د ځمکې لاندې اوبه چې د ډيرو پخوانيو تړونونو هېره شوې موضوع وه، يادول خورا اړين دي. د يادولو وړ ده چې د هلمند اوبو تړون کې هم د ځمکې لاندې اوبو ته اشاره نه ده شوې او د چارو کارپوهان د نومورې تړون يو عمده نقص همدا بولي. دا چې د ۱۹۹۷ کال کنوانسيون يوه مشترکه سينديزه حوزه

[6] UN watercourses convention Users guide, 2012, pp.117-121

۷ د ملګرو ملتونو له لوري د نړيوالو ګډو کښتي چلولو مقاصدو پرته کنوانسيون، ۱۹۹۷، ۲ ماده

د سطحې او ځمکې لاندې اوبو يو مشترک سيستم بللی چې له مخې يې اوبه په طبيعي توګه يوې واحدې انتها ته بهيږي، نو ځکه اړينه ده چې د ګډو سينديزو اوبو نړيوالو تړونونو کې هم د ځمکې لاندې اوبه شاملې شي ترڅو راتلونکې کې د هېوادونو ترمنځ په دې برخه کې ستونزې راکمې شي.

د سينديز چاپيريال ساتنه د دا ډول تړونونو مهمه برخه ده او اړينه ده چې ترې يادونه وشي، ضمنا پدې برخه کې بايد د اړوند هېوادونو د اقداماتو او مسؤليتونو يادونه وشي.

بيلابيلو سکتورونو ته د اوبو تخصيص يادونه خورا اړينه چاره ده او د دې برخې مهم عنصر دی چې بايد پکې د زراعت، انرژۍ، د کښتۍ چلونې او نورو اړوند برخو ته پام وشي او ورڅخه يادونه وشي. د اقليمي تغييراتو په ځانګړې توګه د اوبو زيرنده تغييراتو يادونه خورا اړينه ده. اړوند لوري بايد اقليمي تغيراتو ته په کتو خپلې برنامې تنظيم کړي او د هغو اقداماتو يادونه وکړي چې د اقليمي تغيراتو ناوړه پايلې کمې کړي او يا په دې برخه کې ستونزو ته پروخت رسيده ګي وشي.

۴. **شکلي اقدامات(procedural features):** د ګډو اوبو حوزو مديريتي او د اوبو تخصيص تړونونو کې د اصلي تعهداتو، وجايبو او حقونو يادولو وروسته معمولا شکلي اقدامات(procedural features) راځي. په دې برخه کې د هايدرولوژيکي، هايدرومترولوژيکي او ... آمارو او ارقامو تبادله شامليږي. په حقيقت کې هېوادونه په رسمي توګه داسي ميکانيزم باندې هوکړه کوي چې له مخې يې د اوبو په اړه معلومات او اطلاعات سره تبادله کوي. همدارانز د پلان شويو اقداماتو په اړه د معلوماتو شريکول خورا اړين دي. دا چاره به د اړوند هېوادونو ترمنځ د اعتماد جوړونې په برخه کې مرسته وکړي.

مخکينی خبراوی او مشوره( prior notification and consultation ) هغه مهم موارد دي چې د نړيوالو عرفي حقوقو برخه جوړوي او دولتونه ملزم دي چې د پلان شويو اقداماتو او احتمالي ناوړه پايلو په اړه له يو بل سره مشوره وکړي. همدارانز که چيري خبراوی نه ورکول کيږي، نور شکليات او پروسيجر واضح شي چې څنګه او له کومو شيوو څخه په ګټې اخيستنې مخکې تګ کوي. همدارانز لوري بايد د تړون په دې برخه کې بحث وکړي چې څنګه کولای شي په اضطراري او عاجل وضعيت کې د خبراوي ميکانيزم رامنځته او تقويه کړي.

ګډ نهادونه د مشورې او مخکينی خبرونې په برخه کې مهمه ونډه لري او په دې برخه کې اړينه ده چې د اقداماتو ترلاس لاندې هېواد او اغيزمن لوري منافعو ترمنځ توازن رامنځته شي. د مثال په توګه لويس سپانيش سينديزې حوزې اړوند همکاريو تلپاتې پراختيا همکارۍ تړون چې په ۱۹۹۸ کې رامنځته شوی دی په خپله ۸ ماده کې د مشاورې او خبراوې په اړه مفاد لري.

د اوبو منابعو واحد مديريت د عامه مشارکت او ذيدخلو ډلو ګډون پرته باثباته نه وي. معلوماتو ته د خلکو لاسرسي ميکانيزم بايد په دې برخه کې واضح شي. په تصميم نيونه کې د خلکو ګډون خورا مهم دی او بايد ورڅخه يادونه وشي. همدارانز د تصاميمو په اجرا کې بايد خلک او اړوند ډلې دخيلې وي. که چيرې د پولې باندې ضرر په نتيجه کې کوم حقيقي او حقوقي شخص او يا اشخاصو ته زيان رسيږي بايد په دې برخه کې قضايي تګلارو ته د دوی لاسرسی تضمين شي ترڅو وکولای شي خپل حق ترلاسه کړي. د اوبو منابعو مديريت په محلي کچه د ډلو او افرادو اشتراک خورا اړين ګام دی لکه په افغانستان کې د ميراب سيستم او يا اوبو څخه ګټه اخيستنې انجمنونه او داسې نور....

په ګډو اوبو باندې د داقداماتو او پروژو چاپيريالي او اجتماعي ارزونه خورا مهمه چاره ده. د يوې ګډې سينديزې حوزې پر سر اقداماتو په اړه چاپيريالي او اجتماعي اغيزو په اړه د مطالعاتو شکليات او پروسيجر بايد واضح شي. ښه ده چې مطالعات په مشترکه توګه ترسره شي که چيرې اړوند خواوې په دې سره نه سلا کيږي، امکان لري د دريمګړې په ګډون د مستقل داوري هيآت شموليت په اړه موارد ځای پرځی شي.

سربيره پر دې اړينه ده په دې برخه کې د ګډ نظارت او ارزونې ميکانيزم توضيح شي. د مثال په توګه کولای شو په دې برخه کې د معلوماتو او ارقامو راټولولو ګډ ميکانيزم، ګډ ډيټابيس، د معلوماتو ډيجيتلي کول، ګډ مطالعات او تحقيقات، د نظارت ترتيبات او اړوند اصول او داسې نورو مهمو مواردو منل او درج کول اغيزمنه چاره ده.

د ګډو اوبو تنظيم په برخه کې چې هر څومره د ګډ نظارت او ارزونې ميکانيزم قوي او له واقعيتونو سره همغږی وي، په هماغه اندازه به په اړوند سينديزه حوزه کې شخړې او منازعات کم وي او د اوبو پر سر به د اړوند دخيلو هېوادونو ترمنځ همکاري او همغږي لا پراخه شي.

**۵. تطبيق، ساختاري او نهاديز چوکاټ او د شخړو حل:** د ګډو سينديزو حوزو اوبو منابعو مديريت اړوند تړونونو دا برخه کې د تړونونو د تطبيق، نهادي چوکاټ او اختلافاتو حل او فصل ميکانيزم ته ځانګړې کيږي. په دې برخه کې اړتيا ده چې په ملي کچه د صلاحيت لرونکي ارګان تعريف وشي او د هغو اقداماتو يادونه وشي چې د تړون تطبيق او اجرا په موخه اړين دي. د اړتيا په صورت کې د مشترکو نهادونو تصاميم، رايې او توصيو تطبيق لپاره واضح او شفاف ميکانيزم او

[8]Convention on the cooperation for the protection and sustainable Use of the waters of the Luso-spanish River basin, 1998, art 8.

تګلاره رامنځته کول ضرور دي. همداراز د پولې هاخوا تطبیق په اړه اړینه ده چې د ګډو نهادونو وضعیت او حقوقي شخصیت معلوم شي. دندې، صلاحیتونه، جوړښت او وظایف یې تعریف شي.

د دې نهادونو ترکیب، د کار او فعالیت ژبه او د تصمیم نیونې پروسه واضح شي. همداراز که اړتیا وي نور حمایتي نهادونه لکه کاري ډلې، عملیاتي کمیټې، علمي شوراګانې او تخنیکي ډلې رامنځته کړي. د دوی دنده به داوي چې د ګډو نهادونو تصامیم د ساینس او منطق پر اساس ونیول شي او د عملي کیدو په برخه کې یې ستونزې کمې کړي. د دولتي او غیردولتي لوبغاړو وضعیت او استازیو اختصاص خورا اړین ګام دی چې په ګډو نهادونو کې ورته پام وشي چې آیا په دې نهادونو کې یوازې مشوره او نظر ورکولای شي که رایه هم کارولای شي.

د اړتیا په صورت کې که اړینه وي د ګډو نهادونو لپاره د عمل پلان رامنځته کول هم چارې آسانوي. په دې برخه کې دا هم اړینه ده چې د ملاقاتونو، ساختار او سکرتریت لګښتونه هم مشخص او واضح شي. د ګډو فعالیتونو مصارف لکه د ګډو مطالعاتو او تحقیقاتو، پلانونو او عملیاتو لپاره مصارف پیشبیني او تدارک شي.

د تړون تطبیق په موخه د نظارت ځانګړی میکانیزم باید تعریف شي تر څو هغه ستونزې درک کړي چې له مخې یې د تړون تطبیق پر وړاندې خنډ رامنځته کړی لکه د راپور ورکولو تعهد، د شکایت پرمهال نظارت او دا ډول نور مسایل باید په تړون کې درج شي.

همداراز لکه د بل هر تړون په شان اړتیا ده چې د اوبو اړوند تړونونو کې هم د اختلافاتو حل او فصل تګلاره مشخصه او واضح شي.د هیوادونو مدني مسؤلیت او د خسارې جبران چې د زیان اړولو په پایله کې رامنځته شوی، باید تعریف شي. د اختلافاتو په حل او فصل کې لومړی ګام دادی چې د اختلافاتو مخنیوي لارې چارې واضح شي لکه د ګډو کمیټو او نهادونو له لیارې مسایل په لومړی درجه کې حل شي که چیرې اختلافات رامنځته کیږي بیا نو د حل او فصل میکانیزم بیانول اړینه چاره ده. لکه د مذاکراتو، منځګړیتوب، نیکو هڅو، حکمیت او قضایې حل یادول اړین دي. د هلمند اوبو تړون هم په نهمه ماده کې همدې موضوع ته اشاره کړې او وایې چې د دې تړون تطبیق او اجرا څخه رامنځته شوي اختلافات باید په لومړي سر کې د دیپلماتیکي مذاکراتو، دویم نیکو هڅو او دریمه مرجع به د اختلافاتو حل په برخه کې هڅه وکړي او که چیرې پورتنیو دواړو مواردو نتیجه ورنکړه، نوموړی اختلافات به د تړون په ۲ پروتوکول کې درج شوي حکمیت له لارې حل وفصل کیږي.[9]

**٦. نهایي احکام(Final provisions):** د تړون وروستی برخه باید نهایي یا وروستني احکام ولري. دا برخه د هر بل نړیوال تړون برخه هم ده. په دې برخه کې په تړون کې اصلاحات راوستل، تعدیل، د اړتیا په صورت کې پروتوکولونه، ضمایم او دا ډول نور حقوقي او تخنیکي شکلیات لکه نظارتي پروتوکولونه او د معلوماتو پالیسي راوړل کیږي.

په همدې برخه کې باید یادونه وشي چې تړون څرنګه نافذیږي مثلا تر امضا وروسته باید تآیید، تصدیق، تصویب او د الحاق مراحل مشخص شي. همداراز د تړون ثبت د ملګرو ملتونو منشور ۱۰۲ مادې له مخې د هغه نهاد په سکرتریت کې خورا اړینه چاره ده. سربیره پر دې باید په دې برخه کې وضاحت موجود وي چې د غړو هیوادونو خروج او وتلو میکانیزم څه ډول دی.

د ګډو سیندیزو حوزو پر سر د نړیوالو تړونونو رامنځته کول اسانه چاره نه ده. د هلمند اوبو تړون رامنځته کیدا پر سر کابو ۱۰۰ کلونو دیپلماسی او مذاکراتو وخت ونیو. د دې تړونونو رامنځته کولو مفهوم دانه دی چې ګواکې د اوبو منابعو مدیریت پر سر اختلافات هم پای ته ورسیږي او له منځه ولاړ شي. په هر صورت، د دې تړونونو رامنځته کول یوه اړتیا ده او د نړیوالې سولې او ثبات په برخه کې اغیزمن ګام ګڼل کیدای شي.

سره له دې چې د ګډو اوبو منابعو تنظیم او مدیریت تړونونو محتوا سره توپیر لري ځکه چې د هري سیندیزې حوزې جغرافیایي ځانګړنې بیلابیلې دي، خو لږ تر لږه د اوبو هر نړیوال تړون باید ځینې مهمې برخې ولري لکه مقدمه، عمومي احکام، د تړون اصلي متن(مفادات) چې په حقیقت کې د طرفینو اصلي حقوق او وجایب بیانوي، شکلیاتي موارد، د تړون تطبیق، د اختلافاتو حل او فصل میکانیزم او نهایي احکام.

د یادونې وړ ده چې د چارو کارپوهان باید په دې برخه کې لا ډیرې څیړنې او مطالعات ترسره کړي تر څو زمونږ د هیوادو اوبو سکتور مسؤلینو ته د تصامیمو نیولو پرمهال واضح لیدلورې ورکړي.

**اخذلیکونه**

1. Convention on the cooperation for the protection and sustainable Use of the waters of the Luso-spanish River basin, 1998, art 8.
2. M bengue, M.M. the notion of preamble in wolfram, R. (ed). The max plank, Encyclopaedia of public international law (Online Edition) Oxford university press, 2008.
3. UN watercourses convention Users guide, 2012, pp.117-121
4. UNECE, Guide to implementation the water convention, 2013, pp.105-106.
5. Water charter for the Volta river basin, 2019, art 2.
6. Workshop: Transboundary water governance in Arab world, by Emilie broek. https://www.youtube.com/watch?v=k_ppazsfZPY

٧. د ملګرو ملتونو له لوري د نړیوالو ګډو کښتۍ چلولو مقاصدو پرته کنوانسیون، ۱۹۹۷، ۲ ماده

**۸.** د افغانستان او ایران ترمنځ د ۱۳۵۱ کال هلمند اوبو تړون

[9] د هلمند اوبو تړون، ۹ ماده

د اوبو او انرژي وزارت فصلنامه
لسم کال، شپاړسمه ګڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال دریمه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# ارزیابی اثرات تغیرات اقلیمی بالای یخچال های طبیعی کشور

نویسنده: انجنیر فایزالرحمن عزیزی

یخچال ها کتله های بزرگی از یخ وبرف می باشند که در مناطق دارای اقلیم نهایت سرد تشکیل میشود ، بدین معنی که در مناطق مذکور ریزش برف بیش از مقدار ذوب وتبخیر آن می باشد.البته وجود سرما به تنهای در یک منطقه برای تشکیل یخچال کا فی نبوده بلکه برای های دریای کشور دریاهای آن آب دایمی دارد.

مطالعات نشان میدهد که اکثر یخچالهای کشور در ساحات مرکزی و شمالشرقی افغانستان واقع گردیده و حدود بیشتراز۸۲ فیصد از کل آب های شیرین موجود در افغانستان به وسیله یخچالهای طبیعی و برف های دایمی تامین می های پیش روی این منابع باارزش ازاهمیت بالایی برخوردار است.

یخچالهای طبیعی از جمله شاخص اساسی تغیراقلیم ویگانه منبع معلومات در ساحات مرتفع و کوهستانی کشور که در آن ساحات نسبت فقدان و یا اندک بودن استیشن های



تصویر۱: جریان بازدید از یخچال شکسته شده کنج- پیشغور(۲۰۱۸ )



تصویر۲: جریان بررسی چگونگی شکست یخچال پیشغور (۲۰۱۸)

تشکیل یک یخچال طبیعی علاوه بر وجود سرما ریزش زیاد برف نیز لازم میباشد ( تصاویر۱و ۲) . قله ها ی یخچالی، پیک های برف دایمی و جهیل های یخچالی در میان ارتفاعات هندوکش, کوه بابا , سفید کوه و دره های طویل و عمیق افغانستان وجود دارد و این یخچالهای طبیعی سرچشمه تعداد فراوانی چشمه ها ،تالاب ها ، جهیل ها ودریاهای خروشان افغانستان به شمار میرود و آب مورد نیازدر عرصه زراعت، صنعت، آشامیدن وتولید برق را تا مین می کند.

در افغانستان با ذوب شدن یخچال های طبیعی جریان آب در حوزه دریای پنج آمو و حوزه دریای کابل تامین می گردد که نسبت به سایر حوزه گردد .

با افزایش درجه حرارت قله های یخچالی و برف های کتلوی به ذوبان شروع نموده و منشا چشمه ها، جهیل ها ودریا ها می شود.در واقع عملکرد یک یخچال طبیعی از نظر منابع آب را می توان به یک سد (بند ذخیروی آب) تشبیه کرد که آب جامد را در فصول سرما و برفباری ( زمستان) درخود ذخیره نموده و در فصول گرما و ضرورت به آب مورد استفاده مناسب قرار می گیرد.

نظر به اهمیت هایدرولوژیکی یخچالهای طبیعی سلسله کوهای هندوکش در تنظیم جریان رود خانه های کشور نقش حیاتی و سازنده دارد، ضرورت بررسی وشنا خت پتانسیل ها وچالش میتورولوژیکی نیزباعث کمبود معلومات گردیده بود، بناً بصورت کل مطالعات یخچال ها و جهیل های یخچالی جهت بدست آوردن معلومات تفصیلی و ارزیابی تاثیرات تغیر اقلیم بالای ذوبان و نوعیت آن از ضروریات اساسی تلقی محسوب می شود.


بنابر داغ شدن موضوع تغیرات اقلیمی و اهمیت یخچال ها منحیث فکتور کلیدی در مدیریت یکپارچه منابع آب، مطالعه همه جانبه یخچال ها در سال ۲۰۱۸ میلادی طور مشترک توسط متخصصین ریاست عمومی منابع آب وزارت انرژی و آب و مرکز بین المللی انکشاف همه جانبه کوه ها (ICIMOD) بمنظور تثبیت ، نقشه

برداری و ایجاد پورتال معلوماتی آن اقدام نموده و تغیرات یخچال ها را بین سالهای ۱۹۹۰ الی ۲۰۱۵ یعنی به مدت ( ۲۵ سال) را با استفاده از علم سنجش از راه دور( ریموت سنسینگ) و تکنالوژی سیستم اطلاعات جغرافیای جهانی ) (GIS از طریق تحلیل عکس های ستلایتی صورت گرفت و مطابق تحقیقات انجام شده یخچالهای طبیعی ۰,٤ فیصد خاک افغانستان را


الی۶۹۰۰ مترموقعیت دارد و بزرگترین یخچال طبیعی کشور با مساحت ۳۹,٤ کیلومتر مربع در واخان مربوط به حوزه دریای پنج بالای واقع شده است.

از جانب دیگر نتایج تحلیل ها نشان میدهد که در مدت زمان ۲۵ سال (۱۹۹۰ الی ۲۰۱۰) از نظر مساحت در حدود ٤۰٦ کیلومتر مربع یعنی ۱۳,۸ فیصد یخچالهای کشور و از نظر تعداد

کشور، مطالعات ساحوی و نظارت دوامدار از یخچالها و جهیل های یخچالی نیاز بوده تا در جهت مدیریت این منابع با ارزش در مقابل تغییرات اقلیمی و جلوگیری از حوادث ناگوار آن همانند سیلابهای ناشی از شکست جهیل های یخچالی (GLOF-Glacier Lake outburst ) Floodکه علت اصلی وقوع آن اثران منفی تغییرات اقلیمی و ذوبان سریع یخچالها می باشد تدابیر




شکل۱: تغیرات یخچالهای افغانستان به فیصدی (%) طی سالهای ۱۹۹۰ الی ۲۰۱۵




گراف ۱ تعداد و مساحت یخچالهای افغانستان به فیصدی (%) طی سالهای ۱۹۹۰ الی ۲۰۱۵

پوشانیده است که بیشترین آن در ارتفاعات بالاتر از ۳۵۰۰ متر واقع گردیده است. و همچنان بررسی های انجام یافته نشان میدهد که طی سال ۲۰۱۵ در حدود ۳۸۹۱ یخچال با مساحتی ۲۵٤۲,٦ کیلومتر مربع و حجم تخمینی ۱۵٦ کیلومتر مکعب تشخیص و نقشه برداری شده است که بیشترین آنها در اراتفاعات ۳۲۰۰

حدود ۱۲۳ یخچال یعنی ۳,۱ فیصد از اثر تغیرات اقلیمی ذوب و از بین رفته است.جزیات کامل تحلیل یخچال ها در گراف و شکل ذیل ارایه گردیده است ( شکل ۱ و گراف ۱) :

با توجه به اثرات منفی تغییرات اقلیمی و افزایش درجه حرارت که تاثیرات شدید آن بالای یخچالهای طبیعی منحیث منبع اصلی منابع آبی

لازم اتخاذ گردد، چنانچه در سال ۲۰۱۸ شاهد شکست دو جهیل یخچالی بنام کنج در دره مرتفع پیشغور- پنجشیربودیم که باعث وقوع سیلاب های مدهش و ویرانگر ناشی از شکست جهیل های یخچال (GLOF)گردید که خسارات جانی و مالی زیادی به مردم محل وارد شد.







# د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ برخې معین د دې معینیت کارمندانو ته ور وپیژندل شو









ښاغلی مولوي صاحب عارف الله"عارف" چې په دې وروستیو کې د ا.ا.ا د رهبرۍ له خوا د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین په حیث په دنده ګومارل شوی، د یاد وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور له خوا د یاد وزارت کارمندانو ته د یوې غونډې په ترځ کې ور وپیژندل شو.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر، ښاغلي منصور د یاد وزارت مسئولیتونو په اهمیت لنډې خبرې وکړې او وروسته یې معین صاحب خپلو کارمندانو ته معرفي کړ.

غونډه د یوې دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسیده.

د یادولو وړ ده، چې ښاغلی مولوي صاحب عارف الله عارف د ا.ا.ا د واکمنۍ په تېر پېرکې د غزني ولایت د مرستیال، د کابل ښاروال او د مالیې وزارت د مالي معین په توګه او د آمریکایې اشغال خلاف د وسله وال جهاد په ترځ کې د ولایتي نظامي کمېسیون د غړي او سرپرست او دعوت او ارشاد مرکزي کمېسیون د غړې په توګه دندې اجرا کړې دي.

# د اوبو او انرژي وزیر د هرات له والي سره وکتل



د اوبو او انرژي وزیر محترم ملا عبداللطیف "منصور" هرات ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د یاد ولایت له والي شیخ الحدیث مولوي نوراحمد "اسلام جار" سره لیدنه او خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې دواړو خواوو پر مهمو موضوعاتو د هغوی له جملې څخه د ابګردان بندونو ته پاملرنه او د هریرود مرغاب سیندیزې حوزې د اداري ستونزو د حل په اړه بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

# سرپرست وزارت آب و انرژی از بند پاشدان باز دید نمود



محتـــرم مـــلا عبـــداللطـــسیف"منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی به همراهی شیخ الحدیث نوراحمد اسلام‌جار، والی ولایت هرات، محترم عبدالسلام آغا ، رئیس حوزه دریایی ، محترم ملا مزمل، رئیس حوزه فرعی دریایی و مسئولان فنی و اداری شرکت قراردادی و دیگر مسئولان محلی از بند آب پاشدان ولایت هرات بازدید نمود.

مسئولان محلی ولایت و مسئولان شرکت قراردادی در مورد کارهای انجام شده و هم‌چنان کارهای متباقی این بند به سرپرست وزارت آب و انرژی معلومات همه جانبه را ارائه نمودند.

بعد از شنیدن معلومات مسئولان، سرپرست وزارت آب و انرژی گفت" ما مصمم هستیم که در زودترین فرصت ممکن برای آغاز کارهای متباقی این بند، چالش‌ها را از بین برده و امکانات را مهیا و کارهای متباقی را انجام دهیم".

## د غذایي بحران له منځه وړلو او کار پیدا کیدو په موخه د کار په مقابل کې د غنمو د ورکړې پروسه د اوبو او انرژۍ وزارت لخوا د کابل ولایت شکردرې، ګلدرې، استالف او فرزې ولسوالیو کې تطبیق شوه.



دا پروګرام چې د اوبو او انرژي وزارت لخوا د غذایي بحران له منځه وړلو او کار پیدا کیدو په موخه په لاره اچول شوی وو د کابل ولایت د شکردرې، ګلدرې، استالف او فرزې ولسوالیو کې تطبیق شو
د کار په مقابل کې غنمو د توزیع پروګرام د اوبو او انرژي وزارت د انرژي برخې معین ښاغلي مولوی عارف الله عارف، د کابل سیندیزې حوزې لوی رئیس انجنیر حبیب الرحمن حقپال، د کابل فرعي وسطي سیندیزې حوزې رئیس مولوی ولی محمد تائیب او د دې وزارت یو شمیر نورو مسؤلینو لخوا افتتاح شو.
د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوی عارف خلکو ته د غنمو د توزیع پر وخت د دولت مسؤلین د جامعې خدمتګاران یاد کړه، او د صادقانه خدماتو وړاندې کول یې د دې مسؤلینو اساسي دنده یاد کړه، او په خپلو خبرو کې د عام المنفعه پروژو د تطبیق په برخه کې د خلکو له همکاریو څخه مننه وکړه.
په همدې حال کې د کابل سیندیزې حوزې لوی رئیس انجنیر حبیب الرحمن حقپال د دې پروګرام د اهمیت په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د دې پروګرام په تطبیق سره په ټولیز ډول د کانال پاکونې او اوبو مدیریت ۱۸۲ پروژې تطبیق شوي دي او سلګونو خلکو له هغې څخه ګټه اخیستې ده.
د یادونې وړ ده چې د دې پروګرام په تطبیق سره ۱۳۱۵۸۰ ورځې کار پیدا او د هغې په مقابل کې کارکوونکو ته په ټولیز ډول ۱۳۴۵ ټنه غنم وویشل شول چې ۱۳۴زره څخه زیاتو خلکو له هغې ګټه واخیسته.

## معین آب وزارت آب و انرژی بر تسریع روند امور بند کجکی تأکید ورزید



محترم انجنیر مجیب‌الرحمن"عمر" معین آب وزارت آب و انرژی در دفتر کاری‌شان با رئیس شرکت قرادادی بند کجکی دیدار تعارفی نمود.
در این دیدار، محترم معین آب ضمن خوش آمدید به رئیس شرکت قراردادی بند کجکی بر تسریع روند امور این بند تأکید ورزیده و پیرامون پیشبرد بهتر امور آن، هدایات لازم را به شرکت قراردادی دادند.
در این دیدار، سلیمان سلیف، رئیس شرکت قراردادی بند کجکی در مورد پیشرفت امور این بند به معین آب معلومات همه جانبه را ارائه نموده و از تسریع روند امور آن نیز اطمینان دادند.
گفتنی‌ست که بند کجکی ظرفیت ذخیره دو میلیارد متر مکعب آب و تولید ۱۵۰ میگاوات برق را دارد.

# دیدار رهبری د افغانستان برشناشرکت با سرپرست وزارت آب و انرژی

محترم ملا عبداللطیف"منصور"، سرپرست وزارت انرژی و آب با رئیس تجارتی د افغانستان برشنا شرکت و رئیس کابل برشنا دیدار نمود.

ملا عبداللطیف"منصور" در کنار دیدار با مولوی عبدالرحمن"رحمانی"، رئیس تجارتی د افغانستان برشنا شرکت و مولوی فصل الرحمن"فضلی"، رئیس کابل برشنا پیرامون فعالیت‌های گذشته این شرکت صحبت نموده و بر عرضه خدمات بهتر به مشتریان و هم‌چنان در مورد انجام بهتر امور هدایات لازم را دادند.

مولوی عبدالرحمن"رحمانی"، رئیس تجارتی د افغانستان برشنا شرکت پیرامون فعالیت‌های اخیر و جمع آوری سریع عواید معلومات همه جانبه ارائه نموده افزود: " ما روی پلانی کار می‌کنیم که بتوانیم عواید برشنا را نه تنها در کابل بلکه در تمام کشور به گونه‌ی بی سابقه جمع آوری شود".

هم‌چنان مولوی فضل الرحمن"فضلی"، رئیس کابل برشنا گفت: همانگونه‌که مبارزه با فساد اداری از اولویت‌های ۱.۱.۱ و به ویژه رهبری کابل برشنا است در این بخش تلاش‌های جدی جریان دارد".

در عین حال، محترم ملا عبداللطیف"منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی بر تلاش‌های رهبری د افغانستان برشنا شرکت به ویژه در قسمت مبارزه با فساد اداری را قابل ستایش دانسته و تأکید نمود که در قسمت از بین بردن فساد اداری در مقایسه به گذشته تلاش بیشتر شود.

به گفته‌ی ملا عبداللطیف"منصور" همانگونه که د افغانستان برشنا شرکت یک شرکت خدماتی‌است، بنا براین باید تلاش بیشتر شود که رضایت مشتریان را بدست آورده و کارها به وقت وزمان رسیدگی شود.

## اوبو او انرژي وزارت سرپرست د مشکلاتو دحل او برېښنا رسونې بهتره خدمتونو دوړاندې کولو په موخه د افغانستان برېښناشرکت له سرپرست رئیس سره وکتل

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د افغانستان برېښنا شرکت له سرپرست رئیس مولوی حمد الله زاهد، د کابل برېښنا رئیس مولوی فضل الرحمن فضلی او د یادشرکت یو شمیر مسؤلینو سره د پورونو د ورکړې د ستونزو د حل او په هیواد کې د برېښنا رسونې پراختیا په اړه بحث او نظرونو تبادله وکړه.

په دې لیدنه کې د انرژۍ د تولید بندونو د پروژو، په قسطي ډول د پورونو د ورکړې په لاربنود او په هیواد کې د برېښنا رسونې شبکو د پراختیا په اړه بحث وشو.

همداشان دواړو خواو د ستونزو د حل او د انرژي خدماتو د پراختیا په برخه کې په لا زیاتې همغږۍ ټینګار وکړ.



## د ۱.۱.۱ د یو شمېر ادارو رئیسانو د اوبو او انرژي وزارت د انرژۍ له معین سره وکتل

د کابل حج او اوقافو رئیس محترم شیخ الحدیث عبدالسلام حنفي، د افغانستان برېښنا شرکت تجارتي رئیس محترم مولوي عبدالرحمن رحماني د کابل برېښنا رئیس محترم مولوي فضل الرحمن فضلي او یو شمېر نورو رئیسانو د اوبو او انرژي وزارت د انرژۍ له معین محترم مولوي صاحب عارف الله عارف سره د ده په کاري دفتر کې وکتل.

یادو رئیسانو محترم عارف صاحب ته د دوی د نوي دندې مبارکي وړاندې کړه او په خپلو مسؤلیوتونو کې یې دوی ته د بریا غوښتنه وکړه.

محترم معین صاحب د دوی له راتګ څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه: " د دین، هیواد او ملت خدمت زمونږ ټولو دیني او ملي مکلفیت دی، ټول باید خپلو مسئولیتونو ته متوجه و اوسو او د هیوادوالو د خدمت په لاره کې په اخلاص او صداقت سره گامونه واخلو.



# د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د هلمند د سیندیزې حوزې د عمومي ریاست کړنې وارزولې



محترم انجنیر مجیب الرحمن "عمر" د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین هلمند ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د دغه وزارت د یو شمیر مرکزي رئیسانو او مسئولینو په ملتیا د هلمند د سیندیزې حوزې له عمومي رئیس ښاغلي قاري عبدالهادي، د هلمند د فرعي سیندیزې حوزې له رئیس مولوي قایم او د یادې سیندیزې حوزې له ټولو رئیسانو او کارمندانو سره لیدنه وکړه.

ښاغلي معین په دغه لیدنه کې د هلمند د سیندیزې حوزې عمومي ریاست د فعالیتونو د راپور تر ارزولو وروسته د ستونځو د حل او راتلونکي کال لپاره د پلان چمتو کولو په هکله لازمې لارښوونې وکړې.ښاغلي "عمر" د خپلو خبرو په ترځ کې د اوبو د مدیریت اهمیت ته په اشارې سره د سیندیزې حوزې له ټولو مسئولینو څخه وغوښتل چې په ټوله سیندیزه حوزه کې د اوبو مدیریت لپاره خپلې ټولې هڅې په کار واچوي.

په ورته وخت کې د یادې حوزې مسئولینو خپلې ستونزې او وړاندیزونه له ښاغلي معین صاحب سره شریکې کړې او په ښه ډول سره د خپلو دندو او مسئولیتونو د ترسره کولو په هکله یې ډاډ ورکړ

# معین آب وزارت انرژی و آب از جریان کار پروژه بند کجکی بازدید کرد



محترم انجنیر مجیب الرحمن "عمر " معین آب وزارت انرژی و آب همراه با شماری از روسا و مسئولان این وزارت طی یک سفر رسمی به ولایت هلمند، وضعیت پیشرفت پروژه بند کجکی را از نزدیک مشاهده و بررسی نمودند.

محترم معین آب حین بازدید پروژه از اهمیت آن یاد آوری نموده از آقای سلیمان جولیو رئیس شرکت قراردادی جهت سرمایه گذاری در این پروژه اظهار قدردانی کرد.

آقای عمر به تسریع کار پروژه و توجه بیشتر به کیفیت آن تاکید نموده از همکاری رهبری وزارت انرژی و آب به مسئولان پروژه اطمینان بخشید.

پس از بررسی وضعیت پیشرفت و جریان کار پروژه، معین آب با رئیس شرکت قراردادی و انجنیران تخنیکی پروژه جلسه تخنیکی برگزار نموده در مورد تسریع جریان کار و بهبود کیفیت آن بحث و تبادل نظر نمودند.

قابل یادآوری است که با تطبیق این پروژه ظرفیت تولید برق بند کجکی ۱۰۰ میگاوات افزایش می یابد که ظرفیت مجموعی تولید برق آن به۱۵۱ میگاوات خواهد رسید.

# سرپرست وزارت آب وانرژی با رئیس شرکت انرژی آفتابی (قطر للطاقة الشمسیه) دیدار نمود



محترم ملا عبداللطیف "منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی ا.ا.ا در جریان سفر خویش به قطر با محترم سالم عباسی، رئیس شرکت انرژی آفتابی(قطر للطاقة الشمسیه) آن کشور دیدار نمودند.

در این دیدار، سرپرست وزارت آب و انرژی با رئیس شرکت متذکره پیرامون انرژی آفتابی در افغانستان گفت‌وگو کردند و رئیس شرکت قطر للطاقه الشمسیه در مورد سرمایه‌گذاری در بخش تولید انرژی آفتابی در افغانستان ابراز آمادگی نمود و به سرپرست وزارت آب و انرژی دعوت داد که یک هیئت اداری و تخنیکی وزارت‌های مربوطه ا.ا.ا. در این مورد با این شرکت گفت‌وگوی تفصیلی نماید تا شرکت متذکره در بخش تولید انرژی آفتابی در افغانستان سرمایه‌گذاری نماید.

این نشست در فضای صمیمت به پایان رسید.

# د اوبو او انرژي وزارت د برېښنا د تجارتي مارکیټ رئیس بدخشان ولایت ته رسمي سفر وکړ



د ا.ا.ا د اوبو او انرژي وزارت د برېښنا د تجارتي مارکیټ رئیس محترم انجنیر مصطفی منصور د یوه پلاوي په ملتیا د شورابک بند د تعرفي ټاکلو په موخه د بدخشان ولایت ته سفر وکړ.

د سفر په ترځ کې یاد پلاوي د بدخشان له والي محترم مولوي عبدالغني او د یاد ولایت له یو شمېر سپین ږیرو، مشرانو او مخورو کسانو سره ناستې ترسره کړې.

په دې لیدنو، کتنو کې د برېښنا په برخه کې د بدخشان ولایت د خلکو ستونزې واورېدل شوې او د خپلو شته امکاناتو په چوکاټ کې د دوی د ستونزو د حل په هکله ډاډ ورکړل شو.

تر دې وروسته یاد پلاوې د بدخشان انرژي شرکت له مسئولینو سره په تخنیکي مسایلو بحث او خبرې و کړې او د بدخشان د خلکو د ستونزو د حل په هکله لازم تصمیم و نیول شو.

# د اوبو اوانرژي وزارت د انرژي معین او د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین او د افغانستان اسلامي امارت د ویاند ترمنځ ګډه ناسته تر سره شوه



دا غونډه د اوبو او انرژي وزارت د معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف او د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین او د افغانستان اسلامي امارت ویاند ښاغلي ذبیح الله مجاهد ترمنځ په داسي حال کې چې یو شمېر نورو چارواکو هم شتون درلود، ترسره شوه.

په دغه ناسته کې د بېلابېلو اداري موضوع ګانو، د چارو د ښه انسجام او همغږي او نورو اړونده موضوع ګانو باندې د نظرونو تبادله وشوه.

ښاغلي مولوي عارف الله عارف د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین په دې لیدنه کې د اوبو او انرژي وزارت د تشکیلاتو، فعالیتونو او د دې وزارت نورو چارو په هکله د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین او د افغانستان اسلامي امارت ویاند سره لازم معلومات شریک کړل.

په پای کې دواړو لوریو د چارو غوره پرمخ بیولو لپاره پر لا همغږي باندې ټینګار وکړ.

# د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د کمال خان بند پروژې څخه لیدنه وکړه



د افغانستان اسلامی امارت د رهبري د هدایت په اساس د اوبو او انرژی وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن "عمر"، د هلمند سیندیزي حوزې عمومي رئیس قاري عبدالهادي هادي ، د هریرود مرغاب سیندیزي حوزې عمومي رئیس مولوي عبدالسلام او د یاد وزارت یو شمېر تخنیکي مسؤلینو د کمال خان بند د چارو بیا شروع کیدو او نهر لشکری کانال د پاک کاری په منظور د یادو پروژو څخه لیدنه وکړه.

په دی لیدنه کې د نیمروز ولایت محترم والي ، د نیمروز سیندیزې حوزې رئیس او قومي سپینږیرو د کمال خان بند د قراردادی شرکت له مسؤلینو سره ناسته ترسره کړه، چی په دې لیدنه کې د کمال خان بند د کارونو بیا شروع کیدو او همدارنګه د نهر لشکري کانال د پاک کاري لپاره بحث او د نظر تبادله وشوه او مناسبی لاری او چاری ولټول شوي.

همدارنګه په دې لیدنه کی د نیمروز سیندیزي حوزې، د کمال خان بند قراردادي شرکت او د نهر لشکري کانال د ګتې اخیستونکو ستونزې له نږدی ولیدل شوي چې په نږدې راتلونکي کې به مشکلات حل او د یادو پروژو کارونه شروع شي.

# معین انرژی وزارت آب و انرژی به اعضای انجمن بازرگانان و صنعت کاران مستقل ترکیه از فراهم سازی زمینه سرمایه‌گذاری در افغانستان اطمینان بخشید



محترم مولوی عارف الله عارف معین انرژی وزارت آب و انرژی در دفتر کاری خویش با اعضای انجمن بازرگانان و صنعت کاران مستقل ترکیه دیدار نموده در ارتباط به سرمایه گذاری سکتورهای خصوصی به منظور تولید انرژی در افغانستان بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار آقای مولوی عارف الله از علاقه مندی انجمن بازرگانان و صنعت کاران مستقل ترکیه در سرمایه گذاری برای انکشاف انرژی در افغانستان اظهار قدردانی نموده با یادآوری از منابع موجود و ظرفیت تولید انرژی در کشور از فراهم سازی زمینه سرمایه گذاری به آنها اطمینان بخشید.

معین انرژی در سخنان خود تاکید کرد که رهبری وزارت انرژی و آب از ایجاد سرمایه گذاری در تولید انرژی استقبال نموده و آماده هرنوع همکاری در فراهم سازی زمینه سرمایه گذاری در این راستا می باشد.

در همین حال اعضای انجمن بازرگانان و صنعت کاران مستقل ترکیه علاقه مندی خویش را در سرمایه گذاری به هدف تولید انرژي از منابع آبی، بادی، آفتابی و ذغال سنگ در افغانستان ابراز داشتند.

در اخیر هر دو طرف به امضای تفاهمنامه جهت آغاز کار و تسریع عملی سازی آن تاکید ورزیدند

# د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د پاشدان بند له پروژې څخه لیدنه وکړه



د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن" عمر "د هریرود مرغاب سیندیزې عمومي حوزې رئیس ښاغلي مولوی عبدالسلام، د هرات ولایت فرعي حوزې رئیس او د دې وزارت یو شمیر نورو تخنیکي مسؤلینو په ملتیا د هرات ولایت پاشدان بند له پروژې څخه لیدنه وکړه.

د اوبو ښاغلي معین د پاشدان بند پروژې څخه د لیدنې پرمهال د کار پرمختګ وضعیت، ستونزې او ننګونې له نیردې وڅېړلې او د پروژې تخنیکي مسؤلینو ته یې لازمي لارښوونې وکړې.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري د هدایاتو په اساس د اوبو او د اوبو د بندونو د پروژو اهمیت ته په کتو سره د اوبو او انرژي وزارت رهبري مقام کوشش کوي تر څو د دې وزارت پروژو کار چې د څه وخت پدېخوا ځنډیلي دي، ژرترژره بیا پیل کړي

# بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصل علی رسوله الکریم

وبعده: پاکي ده د هغه ذات (الله) لره چې له اوبو څخه يې هر څه ژوندي پيدا کړې د سورت انبیا به ۳۰ آیت کې الله تعالی مونږ ته ويلي،(وجعلنا من الماء کل شیء حي) صدق الله العظیم". پرته له شکه الله پاک په ټولیز ډول ژوند په اوبو پورې تړلی ده، د علما کرامو او څېړونکو د علمي څېړنو پر بنسټ د انسان جسمي یا بدني جوړښت کې اوبه ۷۰٪ سلنه رول(ونډه) لري، او همدارنګه نشي کولای چې اوبو پرته له اوو "۷" ورځو څخه زيات ژوند وکړي، بلکي هره ګړۍ انسان اوبو ته په کلکه اړتیا لري، لکه څرنګه چې انسان اوبو ته اړتیا لري هر ژوند لرونکی شی همداسي اوبو ته اړتیا لري چي د اوبو په نشتوالي کې ژوند نا ممکن دی، ګیاه هم یواځې په اوبو پایېدای شي او له اوبو پرته يې پایښت ممکن نه دی، لنډه دا چې ټول مخلوقات له اوبو پرته ژوند نه شي کولای، اوس پوښتنه دا را ولاړېږي چې اوبه به د ځمکې له مخه ورکې یا له منځه لاړې شي؟ بې شکه چې الله پاک پوه او په هر شي خبر دی: الله پاک د ژوند راز په اوبو او اکسېجن کې ایښي دی او دا دواړه به د قیامت تر ورځې شتون ولري، اوبه له آسمان څخه راځي چې د څېړونکو په اند د نهرونو، سمندرونو او وړو سمندرونوګيو (سمندرګوټو)له اوبو څخه تاو (تبخیر) د آسمان په لور پورته کېږي. د اوبو دا بخار، دود یا تاو د ټروبو سفير له طبقې چې د ځمکې له سطحې څخه د لس میله په اندازه پورته د اسمان په لور موقيعت لري پورته نشي تللی ځکه له دې طبقې پورته نور په ټولیز ډول اکسجن له منځه ځي او چووي هر کله چې اکسجن نه وي له یو شي د بل پیداکیدل شونې نه دي، نو په همدې ځای کې له یاد تبخیر، بخار یا تاو څخه د الله ج په حکم اوبه د باران یا واورې په شکل د ځمکې په لور راځي چې همدا د اوبو اصلې سرچینې دي.....!

قاري محمد عبدالعزیز

# اوبهٔ او انرژي

Islamic Emirate of Afghanistan Ministry of Energy and Water



نمای زیبا از بند برق شورابک در ولایت بدخشان